

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

# ابادي اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱۳ | مسلسل نمبر: ۱۰۳

پنجشنبه، د محرم الحرام ۷مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ لوړپوړی امارتي پلاوی د ایکو سازمان په ۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون په موخه اذربایجان ته ولاړ



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ارغستان لوړې بند د امکان سنجۍ مطالعاتو او تفصیلي ډیزاین پروژې پرانیسته وکړه



۲ مه صفحه

## نشست دوحه؛ تلاش برای همکاری اقتصادی و مبارزه با مواد مخدر در افغانستان



۴مه صفحه



# سرلیکنه

دا مهال په ټول هېواد کې شاوخوا ۶۰۰۰ صنعتي فابریکې فعالې دي چې له جملې یې ۱۵۰۰ فابریکې د اسلامي امارت په راتګ سره په فعالیت پیل کړې دی. ددې فابریکو د تولید پر مټ اوسمهال افغانستان په ۱۳۰ برخو کې بشپړې او په ۱۰۰ برخو کې نیمه خودکفایۍ ته رسېدلی. دغه کارخونې ۵۷۰ ډوله توکي لکه اوړه، غوړي، مالګه، درمل، اوسپنه، سیمنټ، فولاد، کیمیاوي او محصولاتي توکي او داسې نور تولیدوي.

صنعتي او تولیدي فابریکې د یوه هېواد په اقتصادي پرمختګ او ځان بسیاینې (خودکفایۍ) کې مهم رول لوبوي. دا فابریکې نه یوازې د اړتیا وړ توکي او خدمات تولیدوي، بلکې د کارموندنې فرصتونه هم رامنځته کوي. ددې ترڅنګ د خامو موادو کارولو ته وده ورکوي او د بهرنیو وارداتو اړتیا کموي. په افغانستان کې چې یو کرنیز هېواد دی، صنعتي او تولیدي فابریکې د اقتصادي ودې او ځان بسیاینې لپاره ډېرې مهمې ګڼل کیږي. کله چې یو هېواد خپل اړین توکي په کور دننه تولید کړي؛ نو د بهرنیو توکو د واردولو اړتیا کمېږي، چې دا د بهرنیو اسعارو د سپما لامل ګرځي او اقتصادي توازن رامنځته کوي. فابریکې د نویو تولیداتو او خدماتو په رامنځته کولو سره کورنیو او نړیوالو بازارونو ته تنوع ورکوي، چې دا د سوداګرۍ او صادراتو په وده کې مرسته کوي.

اسلامي امارت د خصوصي سکټور بشپړ ملاتړ کړی او ټولې اړینې اسانتیاوې یې ورته برابرې کړې دي. د همدې هلو ځلو په پایله کې دادی اوسمهال افغانستان چې له لسیزو راهیسې د اشغال او جګړو له امله یې هرڅه له منځه تللي و، د ځان بسیا کېدو په لور ګامونه پورته کوي. همدا اوس چې په ۱۳۰ برخو کې په بشپړ او په ۱۰۰ برخو کې نیمه پر ځان بسیا شوی دی، په دې لنډه موده کې دا یو ستر ګام دی. دا ګام هېوادوالو ته دا هیله ښني چې په راتلونکي کې به افغانستان د زیربناوو د جوړېدو ترڅنګ د اوس په شان وارداتي نه بلکې یو صادراتي هېواد وي. هر څومره چې زموږ هېواد د صنعت په برخه کې پرمختګ کوي، په هماغه کچه به هېوادوالو ته په ښه ډول خدمات وړاندې کیږي او ترڅنګ به یې نور په هېواد کې د بې کارۍ ستونزه د تل لپاره له منځه ولاړه شي. اسلامي امارت ددې ستر بري په ترلاسه کولو سره وښودله چې افغانستان به سوکه سوکه په ټولو برخو کې پرځان بسیا کړي او له دې سره به زموږ اقتصادي وده هم ګړندۍ او هېواد به مو د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ودرېږي. نه به مو ځوانان نور دې ته اړ وي چې په مرګونو لارو بهر ته ولاړ شي او نه به هم په نورو هېوادونو کې د کډوالۍ ستونزې ګالي. په خپل هېواد کې به بسیا او د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر به سوکاله او ارام ژوند ولري.



dpmea.gov.af/ps

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباډي اوونیزه
هفته‌نامه آبادی

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ لوړپوړی امارتي پلاوی د ایکو سازمان په ۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون په موخه اذربایجان ته ولاړ

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ لوړپوړی امارتي پلاوی د ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان په ۱۰مه نېټه د اقتصادي همکاریو سازمان(ایکو) په



۱۷مه سرمشریزه کې د ګډون په موخه د اذربایجان هېواد په رسمي بلنه یاد هېواد ته ولاړ.

تاکل شوې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه سفر پر مهال د ایکو سازمان د ۱۷مې سرمشریزې په عمومي غونډه کې د ګډون او وینا تر څنګ د اذربایجان هېواد له یوشمېر چارواکو سره د دواړو هېوادونو ترمنځ په بېلابېلو برخو کې د اړیکو د پراختیا په اړه ناستې ولري.

د اقتصادي همکاریو سازمان (ایکو) ۱۷مه سرمشریزه د دغه سازمان د غړو هېوادونو د ولسمشرانو او لوړپوړو چارواکو په ګډون د روان میلادي کال د جولای میاشتې په دریيمه او څلورمه نېټه د اذربایجان هېواد په کوربه‌توب ترسره کېږي.

# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ارغستان لوړي بند د امکان سنجۍ مطالعاتو او تفصیلي ډیزاین پروژې پرانیسته وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په پنځمه نېټه په کندهار ولایت کې د ارغستان لوړي بند د امکان سنجۍ مطالعاتو



او تفصیلي ډیزاین پروژې د عملي چارو د پیل پرانیسته وکړه.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اوبو مدیریت په برخه کې د دې پروژې پیل مهم وباله او وېې ویل، دوی د خپلو کړو وعدو د تحقق او هېوادوالو ته د خدماتو د رسولو لپاره شپه او ورځ لګیا دي.

اسلامي امارت ژمن دی چې د هېواد په ټولو برخو کې په مختلفو سکټورونو کې پروژې تطبیق، د اړتیا وړ خدمات وړاندې او عادلانه پرمختګ ته زمینه برابره کړي.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، د ارغستان لوړي بند هغه زېربنایي پروژه ده چې په بشپړېدو سره به يې لسګونه زره جریبه ځمکه خړوبه، برېښنا به تولید او د سېلابونو په مخنیوي کې به رغنده رول ولوبوي. د هغه په خبره، دا پروژه نه یوازې د افغانانو د تخنیکي ظرفیت ښکارندويي کوي، بلکې دا ثابتوي چې امنیت او اراده وي، افغانان د الله تعالی په مرسته د لویو

پروژو د مدیریت توانایي لري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، اسلامي امارت د دې بند او په نورو مختلفو سکتورونو کې د لسګونو پروژو په پرانیستې سره دا ثابته کړه چې افغانستان نور د بهرنیو مرستو ته محتاج نه، بلکې د خپل اقتصاد جوړوونکی او د خپلو منابعو ساتونکی دی. دا بند به په دې سیمه کې د اوبو مدیریت ته نوی نظم ورکړي او د سیمې اوسېدونکو ته به د کار زمینه هم برابره کړي. محترم ملا صاحب هېوادوالو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت په ټول هېواد کې دېته د ورته پروژو عملي کولو پلان لري او په ټولو افغانانو په ځانګړې ډول پانګوالو غږ کوي، چې د هېواد د ابادۍ او بیارغونې لپاره کار وکړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کندهار ولسونو ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت به د ارغستان لورې د اوبو ذخیره کولو بند د جوړولو لپاره له شته امکاناتو په کار اخیستلو پوره هڅه وکړي، چې چارې یې ژر تکمیل کړي. هغه له قراردادي شرکت څخه وغوښتل چې دغه پروژه په ښه کیفیت، په پوره صداقت او امانتدارۍ سره بشپړه کړي.

د یادونې وړ ده چې د ارغستان لورې بند د امکان سنجۍ مطالعاتو او تفصیلي ډیزاین پر پروژه ۱۰۲ میلیونه افغانۍ لګښت راځي او چارې به یې په ۱۸ میاشتو کې بشپړې شي.



## په بلخ ولايت کې د پنځه پوړيز ســـــوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه

د پانګونې بين‌الـــوزارتي کمېټې نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سرطان مياشـــتې په نهمه نېټه په مرمرينه ماڼۍ جوړه شوې وه. غونډې ته له اجنډا سره ســـم د بلخ ولايت په مزارشريف ښار کې د ماليې وزارت پر ځمکه د پنځه پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له هراړخيز بحث وروسته د تاييد وړ وبلل شوه.

همدارنګـــه دې غونډې ته په ننګرهار او خوســـت ولايتونـــو کې د ښـــاروالیو پر ځمکو د ســـوداګريزو مارکېټونو جوړولو طرحـــې هم د بحث لپاره وړاندې شوې. له بحث وروسته ټاکل شوې کمېټې ته دنده وســـپارل شـــوه څو د يادو طرحـــو تخنيکي او مالي اړخونـــه و ارزوي او راپـــور يې په ټـــاکلي وخت د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## نـشـــست دوحـه؛ تـــلاش برای همـــکاری اقتصادی و مبـــارزه با مواد مخـــدر در افغانســـتان

در حالی‌که افغانستان درگیر چالش‌های اقتصادی و اجتماعی اســـت، قطر این روزهـــا میزبان گفت وگوهایی‌ست که شـــاید بتواند روزنه‌هایی از امید را برای میلیون‌ها افغان باز کند. نشســـت‌های گروه هـــای کاری دو روزه در مورد مبارزه با مواد مخدر و پشتیبانی از ســـکتور خصوصی، به ابتکار یوناما و با حضـــور نمایندگان امـــارت اسلامی، کشـــورهای مختلف و سازمان‌های بین‌المللی در دوحه پایان یافت. یوناما می‌گوید که این نشست‌ها تلاشی‌ست برای مرور کارهای انجام‌شـــده، و ترسیم گام‌های آینده برای توسعه پایدار. گل محمدالدین محمدی آگاه مســـایل سیاســـی، گفت: «در نشست دوحه، نمایندگانی از وزارت‌هـــای مختلف امارت اسلامی شرکت کردند. این نشســـت در بخش‌های مختلف، از جمله مبارزه با مواد مخدر، صحت و کاهش فقر، همکاری‌هایی را در نظر دارد. امیدواریم که نشست دوحه به کمک‌های دوام‌دار به افغانســـتان متعهد شـــود.» در نشست دو روزه روند کاری دوحه هیاتی از وزارت‌خانه‌هـــای اقتصاد، تجارت، صحت عامه، زراعت، داخله، خارجه و بانـــک مرکزی نیز حضور دارند تا راه‌حل‌های عملی ارایه کنند. در نشســـت دوحه، گفت‌وگو درباره ایجاد معیشـــت جایگزین، درمـــان معتـــادان، و رشـــد ســـکتور خصوصی و بانکداری در دســـتور کار اســـت. ضیا احمد تکل رییس روابط عامـــه وزارت خارجـــه، گفت: «این هیات با نمایندگان کشـــورهای مختلف و ســـازمان هـــای بین‌المللی در مـــورد توســـعه همکاری‌های احتمالـــی در زمینه‌های پیشـــگیری و کنترول مواد مخدر، معیشت جایگزین، درمان معتادان و بخش خصوصی و بانکداری گفت‌وگو می‌کند.» خان جان الکوزی عضو هیات مدیـــره اتاق تجارت و سرمایه گذاری، گفت: «ســـکتور خصوصی افغانستان، به شـــمول اتاق تجارت و سرمایه‌گـــذاری، در تلاش است تا سازمان ملل، جامعه جهانی و کشور قطر به صورت مشترک پلان‌های اقتصادی و اهداف خود را به‌منظور کمک به مردم افغانســـتان عملی سازند. این کمک‌ها از طریق یوناما و برنامه انکشافی ملل متحـــد (یوان‌دی‌پی) اجرا می‌شـــود. ما نیز تلاش کردیم که در این روند دخیل باشیم.»



## اتحادیه زنبورداران: افغانستان در تولید عسل به خودکفایی رسیده است

اتحادیه زنبورداران می‌گوید که افغانستان در حال حاضر در بخش تولید عسل به خودکفایی رسیده است. اعضای این اتحادیه در یک نشست در ولایت پکتیا از مسوولان امارت اسلامی خواسته‌اند که زمینه بازاریابی را برای عسل افغانستان فراهم کرده و تسهیلات ضروری را برای افزایش تولید عسل نیز مهیا سازند. به گفته آنان، اکنون هشت هزار فارم زنبورعسل در سراسر کشور فعالیت می‌کنند. شاه‌جهان مبارز رییس اتحادیه زنبورداران در این باره گفته است: «اگر واردات عسل خارجی را توقف دهیم، ان‌شاءالله افغانستان در این بخش خودکفا است. دلیل متوقف نشدن ورد عسل خارجی این است که ما این موضوع را به حکومت گزارش ندادیم.» عقل‌باز سیلاب عضو اتحادیه زنبورداران ولایت ننگرهار در نشست ولایت پکتیا گفت: «در کابل یک مارکیت قوی باید داشته باشیم و در هر ولایت یک مارکیت عسل باشد تا دکان‌ها از کوچه‌ها و پس‌کوچه‌ها جمع شده و در یک محل فعالیت کنند. این کار باعث می‌شود که نظم به وجود بیاید و از فروش عسل به قیمت‌های مختلف جلوگیری شود.» اما مسوولان محلی در ولایت پکتیا اطمینان داده اند که به چالش‌های زنبورداران رسیدگی خواهند کرد. انعام‌الله صلاح‌الدین معاون والی پکتیا در این نشست گفته است: «تمام نیازمندی‌های تان که به نظام ربط دارد و در حد توان ما است، آن را رفع می‌کنیم و موضوع ویزه را هم کوشش می‌کنیم حل کنیم.» بر بنیاد آمار ریاست زراعت و آبیاری پکتیا، در این ولایت ۲۷۶ فارم پرورش زنبورعسل وجود دارد که در سال گذشته خورشیدی از آن، ۲۵۰ تُن عسل بدست آمده بود.



## توقف بیش از ۱۲۰۰ کانتینر تجارتی افغانستان در بندر کراچی

بیش از یک‌هزار و ۲۰۰ کانتینر حامل اموال تجارتی افغانستان در بندر کراچی پاکستان متوقف شده‌اند. اتاق مشترک تجارت افغانستان-پاکستان می‌گوید این کانتینرها شامل مواد خوراکی وارداتی هستند که به‌دلیل کندی در روند بررسی کالاها و تردد موترها، در این بندر متوقف مانده‌اند. خان‌جان الکوزی رییس اتاق مشترک تجارت افغانستان-پاکستان گفت: «مشکل بسیار جدی که اکنون در بندر کراچی داریم، این است که بیش از ۱۲۰۰ کانتینر مواد غذایی به‌ویژه بوره و روغن در این بندر متوقف شده است. تقاضای ما از دولت پاکستان این است که وزارت خارجه‌شان همان‌طور که وعده داده بود، روند بررسی این کانتینرها را تسریع کند.» همزمان با بالا گرفتن تنش‌ها میان هند و پاکستان و نیز افزایش تردد موترها در پی درگیری های اخیر میان ایران و اسراییل، روند بررسی موترهای باربری در مسیر کراچی کند شده و این موضوع، نگرانی‌های تازه‌ای برای تجاران افغان ایجاد کرده است. در کنار این چالش، حکومت پاکستان به رانندگان افغان هشدار داده که پس از پایان ماه جون، تنها با ویزه و پاسپورت اجازه ورود به این کشور را خواهند داشت. با این حال، شماری از تجاران افغان این تصمیم را چالشی جدی در برابر تجارت خود عنوان کرده‌اند.



ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او ټـولنيزو مسايلـو په برخـه کـې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه اباديٰ
هفته‌نامه آبادی



# د زيــــربنـــاوو د پراختيــا اهميت

قيس احمد

## سريزه

د زيربناوو (د ســړکونو، پلونو، بريښنا، اوبو رسولو، مخابراتو او نورو بنســټيزو تاسيساتو) پراختيا د اقتصادي خودکفايۍ لپاره يو له مهمو بنســټونو څخه دي. پــه ځانګړې توګه د افغانستان په څېر هېوادونو کې چې د اوږدې مودې جګړو او اقتصــادي ننګونو له امله يې زيربناوې زيانمنې شــوې دي. دغه بنســټونه په يو هېواد کې د اقتصادي فعاليتونو اساس او بنياد جوړوي او بې له دې دوامداره اقتصادي وده او پراختيا ناشونې ده. د پياوړې او قوي زيربنا لرل نه يوازې د توليد، صنعت، کرنې او ســوداګرۍ ملاتړ کوي؛ بلکې د کورنيو او بهرنيو پانګوالو لپاره د پانګونې د جذبولو فرصتونه هــم برابروي. موږ په همدې مقاله کې د زيربناوو د پراختيا پر اهميت او د اسلامي امارت له لوري د هېواد د زيربنايي بنســټونو د بيارغونې په برخه کې ترسره شــوو فعاليتونو ته لنډه کتنه کوو.

## د زيـــربنا پېژندنه

زيربناوې هغه فزيکي او ټولنيز جوړښتونه دي چې د اقتصادي فعاليتونو د ترسره کولو لپاره ورته اړتيا وي. له دې بنستونو پرته په يو هېواد کې اقتصــادي فعاليتونه له خنډ او ځنډ سره مخ کېږي او خلکو ته مؤثر خدمتونه نه وړاندې کېږي. زيربناوې په عمومي توګه په دوو برخو وېشل شوې دي:

- اقتصادي زيربناوې: لکه ســړکونه، بندرونه، فابريکې، بريښنا، رېل‌پټلۍ، ټرانسپورټ او مخابرات.
- ټولنيــزې زيربنــاوې: لکــه ښــوونځي، پوهنتونونه، روغتونونه، عامه خدمات، اداري او داسې نور.

## د زيربناوو د پراختيا اهميت او د اسلامي امارت ترسره شوي هڅې

د زيربناوو پراختيا د يو هېواد په اقتصادي وده کې تر ټولو مهم او حياتي رول لري او د هغــه د پرمختګ کيلي بلل کېږي. اقتصادي زيربناوې لکه سړکونه، بندرونه، فابريکې، بريښنا، رېل‌پټلۍ، ټرانســپورټ او مخابرات د سوداګرۍ او پانګونې لپاره تر ټولو مهم فرصتونه برابروي. دا د توليد، ترانسپورټ او بازارموندنې اسانتياوې زياتوي، چې اقتصادي فعاليتونه ورسره پراختيا مومي.

د اقتصادي زيربناوو له جملې د سړکونو، رېل پټلۍ او هوايي ډګرونو په پراختيا سره د ســوداګريزو توکو او خدماتو د لېږد رالېږد لګښــتونه کمېــږي او په دې توګــه د بازارونو ترمنځ ســوداګريز تړاو پياوړی کېږي. د بېلګې په توګه، د اسلامي امارت له لوري د کابل – کندهار لويې لارې په بيارغونې سره د هېواد د جنوب، جنوب – لويديځ او مرکزي ولايتونو ترمنځ د مسافرو تګ راتګ او سوداګريز تړاو د تېر په پرتله ډېر غښتلی شــوی. له دې وړاندې به له هرات او يا هم کندهار څخه په ســوداګريزو توکو بار لارۍ په درېيو، څلــورو او ان پنځو او مسافر وړونکي موټر به په دوه ورځو کې کابل ته رارسېدل. په دې سره به د مسافرو او سوداګريزو توکو د انتقال پرمهال ډېر وخت ضايع کېده او ځينې خوراکي توکي او درمل به د زيات ګـرد او ګردونو له امله خرابېدل. له همدې وجې ســوداګري کمزورې، د مســافرو تګ راتګ ستونزمن او د دې لارې په اوږدو کې اقتصادي فعاليتونه کم وو. خو اوســمهال له نېکه مرغه چې دا لويه لار د اسلامي امارت له لوري په اســاسي ډول رغول شوې ده، ســوداګري پياوړې شوې، مسافرو ته ډېرې اسانتياوې رامنځته شوې او د دې لارې په اوږدو کې ډېر زيات کوچني اقتصادي کاروبارونه غوړېدلي دي.

د اقتصادي زيربناوو د پراختيا په صورت کې بې شــمېره نوي کاري فرصتونــه هم رامنځته کېږي. په دې سره په يو هېواد کې د بې‌کارۍ کچه راټيټېږي او د خلکو اقتصادي وضعيت ورسره ښه کېږي. په دې برخه کې د صنعتي توليدي فابريکو او شرکتونو فعالول او بيارغول ډېر مهم دي. اسلامي امارت د صنعتي توليدي فابريکو او شرکتونــو فعالولو او بيارغونې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. ښــه نمونه يې د لســګونو امارتي صنعتــي او توليدي شرکتونو فعالول دي چــې له کلونو فلج وروسته اوسمهال په بېلابېلو برخو کې توليدات او هېوادوالو ته خدمات وړاندې کوي. يوازې په امارتي شرکتونو کې تر ۵۰ زره زيات هېوادوال په کار مصروف دي.

د امارتي صنعتي او توليدي شرکتونو ترڅنګ اسلامي امارت د خصوصي ســکټور له لوري جوړو شوو فابريکو او شرکتونو ته هم ځانګــړې پاملرنه کړې ده. هغوی ته يــې ټولې لازمي اســانتياوې رامنځته او ســتونزې يې تر ډېره حل کړې دي. اوســمهال په ټول هېواد کې تر پنځــو زرو زياتې فابريکې فعاليت کوي چې يوازې ۱۵۰۰ يې د اسلامي امارت له راتګ وروسته فعالې او جوړې شــوې دي. په دې فابريکو کې په لسګونو زره هېوادوال په کار مصروف دي.

د بريښنــا او اوبو مديريــت زيربناوې د صنعتــي او زراعتي سکټورونو د پرمختګ لپاره اړينې دي. اسلامي امارت د اوبو مديريــت په موخه د هېواد په کچه د هغو بندونو ارزونه کړې ده، چې چارې يې نيمګړې پاتې او يا هم نه دي پيل شوې. له دې جملې يې د کمال خان بند د درېيم فاز او همدارازشاه و عروس، عمري او سرخاب بندونو پاتې چارې بشپړې کړې، د پاشدان، بخش اباد او پلتوني بندونو چارې په چټکۍ سره

روانې دي، د قوش‌تېپې ملي کانال لومړی فاز بشپړ او دویم یـــې هم تکمیلېدو ته نږدې دی او د دې ترڅنګ د لمر، باد او ګازو څخـــه د برېښـــنا تولید مهمې پروژې پیل شـــوې چې مجموعي ظرفیت یې ۲۶۱ میګاواټو ته رسېږي. د دې هڅو په پایله کې د هېواد په کچه د کرنیزو محصولاتو کچه زیاته شـــوې، چې ښه نمونه یې د ۱۴۰۳ لمریز کال پرمهال د غنمو حاصلات وو، چې د نورو کلونو په پرتله پکې ۱۱ سلنه زیاتوالی راغلی و. همداراز صنعتي فابریکو او شرکتونو د اړتیا وړ برېښنا په ورکولـــو سره هېواد اوســـمهال په ۱۳۰ ســـکتورونو کې خودکفایي ته رســـېدلی دی چې ښـــه بېلګه یې د اوسپنې او چرګانو غوښې سکتورونه دي.

له دې ورهاخوا اسلامـــي امارت د هغو زېربنایي پروژو د پیل لپاره هم ښـــه زمینه برابره کړې چې په سیمه‌ییز اتصال کې حیاتي رول لري. په دې برخه کې تر ټولو مهمه او لویه پروژه تاپي ده چې اوسمهال یې د افغانستان په خاوره کې چارې په چټکۍ سره دوام لري. افغان – ټرانس د اوســـپنې پټلۍ بله هغه پروژه ده چې د چارو د پیل لپاره یې په افغانستان کې ټول شرایط چمتو او ښکېل هېوادونه یې هم پیل ته لېواله دي، د کاســـا زر او تاپ پروژو د پیل لپاره هم افغانســـتان بشـــپړ چمتووالـــی لري. دا پروژې له شـــک‌پرته د افغانســـتان پر صنعت، اقتصادي وده، ســـوداګرۍ او د بې‌کارۍ کمولو کې اساسي رول لري.

د اقتصـــادي زېربنـــاوو پـــه ځانګـــړي ډول د مخابراتو او ترانســـپورتي زېربناوو د پراختیا په صورت کې ښارونه وسعت پیدا کوي، په کلیو او لرې پرتو سیمو کې اقتصادي فعالیتونه غوړېږي او په دې توګه د ښـــار او کلي ترمنځ واټن راکمېږي چې دا د ســـوداګریزو او ټولنیزو اړیکو په پیاوړتیا کې مرسته کوي. د روغتیا، تعلیم او اوبو رسولو زیربناوې د خلکو د ژوند کیفیت لوړوي. د بېلګې په توګه، ښه روغتونونه، ښوونځي او پاکې اوبه د ټولنې روغتیا او تعلیمي کچه لوړوي.

د افغانســـتان د معدنیاتو او طبیعي سرچینو اســـتخراج او په زیربناوو کې یې پانګونه کولای شي د اقتصادي خودکفایۍ لپاره ښه بنســـټ جوړ کړي. د ترسره شـــوو څېړنو له مخې، افغانستان د ټریلیونونو ډالرو په ارزښت طبیعي زېرمې لري چې اســـتخراج یې د هېواد اقتصاد په پښو درولی شي. اسلامي امارت په مســـلکي او تخنیکي ډول د دې زېرمو را ایستلو ته توجه کړې ده، چې اوسمهال د هېواد په مختلفو ولایتونو کې پـــه کوچنیو او لوی مقیـــاس کانونو کې د کورنیـــو او بهرنیو شرکتونو له لوري په سلګونو میلیارده افغانۍ پانګونه شوې ده.

## پایله

د زېربنـــاوو پراختیا د یو هېـــواد د اقتصادي پرمختګ او د خلکو د هوســـاینې بنســـټ دی. کله چې یو هېواد قوي او پراخې زېربنـــاوې ولري، له شـــک‌پرته خپـــل اقتصادي راتلونکی تضمینوي. قوي او پراخه زېربنا خلکو ته د کار او پانګونې زمینـــه برابروي او په اوږدمهال کـــې د یو هېواد اقتصـــادي او بشري ودې ته لار هواروي. د قوي او پراخه زېربنـــا په موجودیت کـــې د یو هېواد اقتصـــاد وده کوي، سوداګري پراخېږي، صنعت پرمختګ کوي او خلکو ته په بېلابېلو برخو کې اسانتیاوې رامنځته کېږي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۹,۷۵؋ | ۶۹,۸۰؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۳۶؋ | ۲۳۶؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۷۶؋ | ۰,۷۷؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۸۲,۰۹؋ | ۸۲,۱۵؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۹؋ | ۰,۸۹؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۸۱۴؋ | ۸۱۴؋ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ۹۵,۵۱؋ | ۹۵,۵۸؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۸,۶۰؋ | ۱۸,۶۱؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۹۹؋ | ۱۹,۰۰؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۷۳؋ | ۹,۷۴؋ |

